بېشکه چې عدل کوونکي به د الله - جل جلاله - په وړاندې د رڼا په منبرونو د رحمن ذات ښي طرف ته وي؛ او د هغه (ذات) دواړه (بلا کیفه) لاسونه ښي دي

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «بېشکه چې عدل کوونکي به د الله - جل جلاله - په وړاندې د رڼا په منبرونو د رحمن ذات ښي طرف ته وي؛ او د هغه (ذات) دواړه (بلا کیفه) لاسونه ښي دي، هغه څوک چې په خپل قضاوت، خپلو کورنیو او هغه څه کې عدل کوي چې سرپرستي يې ور ترغاړې ده».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې هغه کسان چې د دوی تر امر او قضاوت لاندې د خلکو او د دوی د کورنیو تر منځه په انصاف او رښتینولۍ سره قضاوت کوي نو هغوی به د درناوي په موخه په داسې لوړو او دنګو څوکیو ناست وي چې هغه به له نور څخه پیدا شوي وي. او دا منبرونه (څوکۍ) به د رحمان ذات ښي اړخ ته وي، او د هغه پاک ذات دواړه (بلا کیفه) لاسونه ښي دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4935